AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۲۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (یووشتمه برخه)

### علي اصغر بشیر

د هرات له شیعه ګانو څخه، د علي نظر زوی، په ۱۹۱۵ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په شعر کي د استعداد خاوند شاعر، لیکوال او د فارسي د قلمي نسخو متخصص. نوموړي د هرات اتفاق اسلام خپرونه خپره کړه. کابل ته راکډه سو او د ژوندون د مجلې مرستیال محرر سو. په ۱۹۶۸ز کال کي ئي له پوهاند نوین سره د ترجمان په جریدې کي کار وکړ او له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۳ز کال پوري ئي خپل هجویه او طنزیه دري اشعار خپرول. د جامي، انصاري او نورو په هکله د یو شمېر کتابونو لیکوال. په ۱۹۸۲ز کال کي وفات سو.

**استاد عبدالقیوم بیسد** : وګورئ : بیسد

### خداینور باور

د مرکزي کمیټي علی البدل غړی. د سویل لویدیځ زون آمر. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په میاشت کي د انقلابي شورى غړی. د ۱۹۸۶ز کال د جنوري په میاشت کي د کروندګرو د ډیموکراتیک سازمان منشي. مورنی ژبه ئي پښتو ده.

### باز محمد

د ننګرهار د خوګیانیو بومي اوسېدونکی. د ولسمشر محمد داؤود د کور شخصي ناظر. د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کي د کابل د پلچرخي په زندان کي زنداني سو او د ۱۹۷۸ز کال کي د جون په میاشت کي اعدام سو. مورنی ژبه ئي پښتو وه.

### میر عبدالرشید بی غم

د افغانستان در مسیر تأریخ د مؤلف میرغلام محمد غبار ورور. له ۱۹۱۹تر ۱۹۳۳ز کال پوري ئي خپل لوړ تحصیلات په جرمني کي ترلاسه کړل. د محمد عظیم ملګری٫ محمد عظیم د برتانیي په سفارت کي دريِ تنه ووژل. له دي پېښي وروسته بي غم ډېر ژر ونیول سو او وریسي تبعید سو. شاه محمود خان بېرته آزاد کړ. نوموړي تر ۱۹۶۸ز کال پوري چي په همدې کال متقاعد سو د معارف په وزارت کي د سپورتونو رئیس وو.  په ۱۹۸۳ز کال کي په کابل کي وفات سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## ډاکټر بهوول/ بهاول [1]

د غوايي له پاڅون وروسته د جيوديزي او کارتوگرافي [2] عمومي رئيس.

## آيت الله سيد علي بهشتي

د ۱۹۳۰ز کال په شاو خواوو کې په باميانو کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په باميانو کې؛ او ديني تحصيلات ئې په عراق او سعودي عربستان کې کړي دي. په پام کې وه چې په عراق کې له آيت الله خميني سره وگوري. د غوايي تر پاڅون پورې د تکيه خاني ويأند وو. د هزاره گانو د شورای انقلابی اتفاق اسلامی هزاره جات مشر. د نومړي مراکز په وَرَس کې دي. خميني پلوی «سازمانِ نصر» ورسر مخالف دئ.

## محمد حسين بهروز

د غلام بهاء الدين زرگر زوی، په ۱۹۲۹ز کال کې د کابل په گذر خوابگاه کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کې د نجات له ليسي او په ۱۹۵۳زکال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د استقلال د ليسي ښوونکی او د دارالمعلمينو استاد. په ۱۹۵۶ز کال کې د کانونو او صنايعو په وزارت کې د کتابتون مدير. د جنگلک د کارخاني مدير. ميناتور او خطاط. د «افغان ادبيات : د غزنويانو له عصره نيولې تر اوسه پورې » د کتاب مؤلف. له ۱۹۶۰ز لسيزې راهيسې په مسکو کې ژوند کوي. ويل کېږي چې د ډاکټر محمودي پيرو دئ.

## عبدالرؤوف بېـنوا

د علي زيو له قبيلي څخه د مولوي عبدالله زوی، په ۱۹۱۳ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ او د «عدليي د پخواني وزير» محمد کريم حقاني ناسکه ورور دئ. دی هغه ليکوال دئ چې لومړی ئې ليکني په طلوع افغان کې نشر کړلې. د ويښ ځلميانو په نوم د مقالاتو ټولگه يا مجموعه ئې چاپ کړه. د پښتونستان د داعيي فعال. د پښتو ټولني رئيس. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د راډيو کابل رئيس. په ۱۹۵۶ز کال کې په ډهلي کې مطبوعاتي اتشه. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په قاهري کې مطبوعاتي اتشه. په ۱۹۶۶ز کال کې د قبائيلو د چارو د رياست مرستيال رئيس. ويل کېږي چې د ميوندوال ملاتړی وو. په ۱۹۶۷ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزير. له کندهار څخه د ولسي جرگي غړی. د خلقيانو د واکمنی پر مهال ځکه ونـهٔ نيول سو چې له ۱۹۴۷ز کال راهيسي ئې له تره کي سره پخوانی ملگرتوب درلود. د ۱۹۸۰ز کال د فبروری د مياشتي په ۳ نېټې د صدارت عظمی سلاکار. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۴ز کال پورې د ليبيا سفير. «د پښتانـهٔ ليکوال» د کتاب مؤلف. د امريکا متحده ايالاتو ته د طبي درملني لپاره راغی او په ۱۹۸۴ز کال کې همدلته وفات سو. حشمت خليل غبار د عبدالرؤوف بېنوا زوم دئ.

## بېـنـظـيـر

د عبدالغفور برېښنا خور» يوه محمدزی مېرمن ده چې په ۱۹۲۹ز کال کې حبيب الله کلکاني ورسره وادهٔ وکړ. کله چې سلطنتي مانی د نادر خان له پلوه کلابنده سوه، بې نظيره له خپل خاوند سره يو ځای له مانی څخه ووتله. کونډې بې

[1] - Behawul, Dr.
[2] - Geodesy and Cartography


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نظيري په ۱۹۳۱ز کال کې له عبدالرشيد سره واده وکړ ؛ عبدالرشيد په ۱۹۴۷ز کال کې د شورى يا ولسي جرگې مرستيال وياند او په قوم الکوزی وو.

## عبدالقيوم بـېـسد

په ۱۹۲۶ز کال کې زېږېدلی دئ. د استقلال په ليسې کې ئـې زده کړې کړې دي. ممثل او د کابل ننداري غړی. د ممثلينو د اتحاديې رئـيس. مورنی ژبه ئـې دري ده.

## صوفي عبدالحق بيتاب

د عبدالحق عطار زوی، په ۱۸۹۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خصوصي او شخصي تحصيلات ئـې کړې دي. په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل کې د لومړني ښوونځي ښوونکی، له ۱۹۲۰ تر ۱۹۳۰ز کال پورې د حبيبيې د ليسې ښوونکی او په پای کې د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد. په ۱۹۵۱ز کال کې ملک الشعرا سو. د معارف او رښتين مډالونه ئـې گټلي دي. په ۱۹۶۵ز کال کې سناتور سو. د ۱۹۷۱ز کال د مارچ په مياشت کې په جلال آباد کې وفات سو. [د ژباړونکي يادونه : د استاد بيتاب د ژوندون په هکله دغه معلومات دقيق نـهٔ دي. د لا نوري شرحې لپاره لمنليک وگورئ] [3]

---

[3] - د استاد بيتاب لمسی ښاغلی احمد فهيم حکيم نومېږي. پورتـني معلومات مې له ښاغلي فهيم سره شريک کړل. نوموړی وايي چې اروا ښاد بيتاب په ۱۳۰۶هجري قمري کال کې زېږېدلی دئ چې له ۱۸۹۲ز کال سره نـهٔ بلکه له ۱۸۸۸ز کال سره تقريباً سمون خوري. د څلورم ټولگي په دري کتاب کې ئـې د استاد د زوکړې کال ۱۲۶۷ هجري شمسي ښودلی دئ چې له نوموړو نـېټو سره سمون خوري.
ښاغلي احمد فهيم حکيم ما ته د استاد بيتاب د فيسبوک پته راکړه چې د استاد بيتاب د لمسې ميرمن نيلاب حکيم له پلوه چلول کېږي. په دې پاڼې کې د استاد بيتاب په قلم ليکل سوي د هغـهٔ لنډ ژوند ليک يا سوانح راغلي دي چې ئـې دلته نقلاً د ښاغلي احمد فهيم حکيم په تاييد او اجازې را اخلم :
مختصر سوانح مرحوم ملک الشعرا استاد صوفی عبدالحق بيتاب به قلم خودش
عمر من در کار تعليم و تعلم صرف شد
جز به مردن زندگی خارج نکرد از مکتبم
بنده عبدالحق متخلص به بيتاب در نسب افغان و قوم صافی، در مذهب حنفی و در مشرب طريقهٔ نقشبنديه مجرديه ميباشم. در سال ۱۳۰۶ هجری قمری در گذر قصابان متصل جادهٔ نادر شاهی از کتم عدم پا به عرصهٔ وجود گذاشته ام. نُه ساله بودم که قبلهٔ امجدم ملا عبدالاحد خان عطار پدرود حيات گفته و تربيه ام به ماما هايم جناب فضيلت همراه ملا عبدالغفور آخندزاده و ملا عبدالله ملقب به مرشد که از عطاران اعليحضرت ضياءالملته والدين بود تعلق گرفت. از طفوليت تا کهولت عربی وفارسی را بيشتر از ايشان و برخی از بعض فضلای داخلی وطن کسب کرده ام.
صرف و نحو، فقه، قرأت و تا يک اندازه تفسير و حديث و علوم ادبيه را از عروض، قافيه، معانی، بديع وبيان تحصيل نموده ام. حتی از علم زيج فی الجمله معلوماتی دارم و تقاويم، کواکب سبعه و استخراج زايچه می توانم. متاسفانه در آن عهد مکتب رسمی و عصری نبوده که امروز ديپلومی بدست می داشتم.
ذوق فطری به سن بيست بشاعری سوقم داد. در شعر و ادب از حضور استاد بزرگوار ملک الشعرای مرحوم حضرت قاری عبدالله خان استفاده و استمداد نمودم.
در آغاز تقررم به معلمی چنين تصديق فرمودند:
"درين جزء زمان که از سخن حرفی و از نکته رسی نامی مانده، کليم خاموش و واقف بی هوش گشته نزديک است سخن؛ نی نی فارسی از زبان افتاده بی نشان گردد. برخی از سخن شناسان حرفم را رتبهٔ ميدهند و زبان قلمم را سند می پندارند. بنابران برای برادر سخن شناس صوفی عبدالحق خان بيتاب که در کتب فارسی عموماً و در دواوين اشعار خصوصاً بلديت اعلی و ماهريت معتنابها دارد طوريکه در ين عصر طالب سخن و غنيمت فنش توان شمرد و از ادب آموزان کامل و معلمين قابل زبان فارسيش توانگفت راجع به لياقتش اين سند داده شد".
ربيع الثانی ۲۵ جدی ۱۳۳۳ قمری
در آخر چنين فرمودند:
بيتاب که واقف رموز اشياست اسرار حقيقت زجبينش پيداست
استاد فنون ادب آمد اما سرمايهٔ دانشش ازينها بالاست
در سال ۱۳۳۵ قمری رسماً معلم مقرر شده و بعد از دوسال تعليم در مکتب ابتدائيه به مدرسهٔ حبيبيه به صنوف عاليه که آن وقت به نام رشديه و اعداديه ياد می شد تعليم ادبيات فارسی می کردم. در دارالمعلمين و مکتب نسوان قبل از زمان انقلاب و بعد از آن درس می دادم. در زمان فوضيت بيکار بودم و در زمانی که در صدارت عظمی بنام هيئت تفسير و ترجمه صورت گرفت بنده نيز قرار فرمان صدارت در آن شامل و از اول تا آخر که تقريباً پنج سال را در بر گرفت اجرای وظيفه نموده ام و از ده سال به اينطرف در فاکولتهٔ ادبيات تعليم می دهم. لسان خارجی را نمی دانم. از کتب عربی به فارسی ترجمه می توانم.
در دوران مشغوليت های رسمی چندين مرتبه به اخذ مکانات نقدی نشان درجه دوم معارف و مدال رشتين مفتخر شده ام.
به تاريخ ۱۸ دلو ۱۳۳۰ شمسی قرار فرمان ۴۵۱۴/۱۸۱۰ از حضور اعليحضرت معظم همايونی به خطاب ملک الشعرائی ممتاز گرديده ام که سواد فرمان اين است:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**بی غم** : وګورئ : میر عبدالرشید بـېـغم

## نور بیا

### شهزادګی بلقیس

د پخواني پاداشه محمد ظاهر شاه مشره لور په ۱۹۳۲ز کال ک**...**

## قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

---

ع، ص صوفی عبدالحق خان بیتاب استاد فاکولتۀ ادبیات!
از آنجا که مقام استادی شما در علم شعر و ادبیات و همچنین خدمات برجسته و متمادی تان در راه علم و عرفان کشور ثابت و مسلم است همانا به سپاس سویۀ علمی و مراتب ادبی تان و نظریه و پیشنهاد مجلس استادان فاکولتۀ ادبیات و موافقت مجلس ریاست مطبوعات و تصویب مجلس عالی وزرا شما را به خطاب ملک الشعرائی افغانستان عز افتخار بخشیده و این منظور و ارادۀ خود ما را به فرمان هذا به شما ابلاغ فرمودیم از خدای علیم برای شما در راه خدمت به معارف و مطبوعات وطن توفیقات بیشتر آرزو و این خطاب را به شما تبریک می گوییم.
در میزان ۱۳۴۴ طی فرمانی به حیث سناتور انتصابی در مشرانو جرگۀ افغانستان عز تقرر حاصل کردم.
تالیفات و تراجم بصورت خطی و طبع شده عبارت اند از:
الف: تالیفات:
۱ .علم معانی. چاپ دوم، کابل، پوهنځی ادبیات، پوهنتون کابل ۱۳۴۷. ۱۲۸ ص
۲ .دیوان اشعار
۳ .گفتار روان در علم بیان. چاپ دوم، کابل، پوهنځی ادبیات، پوهنتون کابل ۱۳۴۶. ۳۲ ص
۴ .علم بدیع. چاپ دوم، کابل، پوهنځی ادبیات، پوهنتون کابل ۱۳۴۷
۵ .تصوف برای صنف چهارم پوهنځی ادبیات، ۵۰ ص
۶ .مفتاح الغموض در قافیه و عروض، کابل، پوهنځی ادبیات، پوهنتون کابل ۱۳۴۷. ۵۶ ص
۷ .دستور زبان فارسی، کابل، پوهنځی ادبیات، پوهنتون کابل
۸ .دو رساله در صرف عربی برای صنف هفت و هشت لیسه ها
ب: تراجم:
۱ .انشاء مقالات. کابل، جریدۀ ثروت وزارت مالیه ۱۳۵۵ شمسی. ۸۰ ص
۲ .رساله در علم رمل به نام مقدمۀ سرخاب
۳ .مبادی علم منطق، کابل، جریدۀ ثروت وزارت مالیه ۱۳۳۵ شمسی. ۵۶ ص
۴ .ترجمۀ ابن عقیل شرح الفیۀ ابن مالک در نحو عربی (قلمی)
۵ .الیسا غوجی
۶ .ترجمۀ شافیۀ ابن حاجب در علم صرف عربی (طبع هند)
۷ .صریری. ترجمه صریری در مبادی نحو عربی، کابل، جریدۀ ثروت وزارت مالیه ۱۳۳۵. ۶۸ ص
۸ .ترجمۀ چهار رساله در منطق از تالیفات علمای مصری
۹ .ترجمۀ کتاب قاضی عبدالجبار همدانی در علم صنعت
۱۰ .ترجمۀ قسمت اول علم اجتماع نیکلای حداد که جایزه گرفته ام
برعلاوه مقالات ادبی در روزنامه ها، جراید و مجلات کشور نیز به طبع داده ام.
د استاد بیتاب لمسی ښاغلی احمد فهیم حکیم وایي چې استاد بیتاب د ۱۳۴۷ل کال د کب د میاشتي په شلمه په کابل کې په کارتـۀ مأمورین کې په خپل کور کې وفات سو او په شهدای صالحین کې د علامه سلجوقي د مقبرې تر څنګ خاورو ته سپارل سوی دئ.
[3] - د ژباړونکي یادونه : د استاد بیتاب زوم د کرنې پخوانی وزیر ښاغلی عبدالحکیم دئ چې د نوم شرحه ئـې په دې کتاب کې راغلې ده او د ښاغلي احمد فهیم حکیم پلار دئ. ښاغلی حکیم له ۱۳۴۴ تر ۱۳۴۸ل کال پورې د ننګرهار د پرمختیایي پروژې رئـیس وو او استاد بیتاب به هر ژمی هلته ننګرهار ته سفر کاوۀ. دا چې ویل سوي چې په جلال آباد کې وفات سوی صحیح نه ده او ښایي د استاد بیتاب د وفات د ځای یادونه له همدې انتباه څخه راغلی وي چې په جلال آباد کې ئـې کار کاوۀ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ